
# د عقیدهٔ تَوحِید

# عملي تقاضې

**30 July 2026**



(For Islamic Brothers)

هفته وراه د سُنّتو ډکه اجتماع کښې کيدونکے

د سُنّتو ډک بيان

پۀ 30 جولائي، کال 2026ء (بمطابق: 15 صفر شريف، کال 1448ھ) د پاکستان پۀ هفته وارو اِجتماعاتو کښې کېدونکے بيان

# د عقيدۀ تَوحِيد عملي تقاضې

## (د عقيدۀ توحيد وضاحت او د کشف المحجوب پۀ رڼا د دې د تقاضو بيان)

پۀ دې بيان کښې به تاسو زده کړئ...

- ـــ د عقيدۀ تَوحِيد مختصر تشريح
- ـــد الله پاک د وجود او د يو والي دليلونه
- ـــ د الله پاک پۀ دربار کښې د حاضرۍ نه حيا اوکړئ!
- ـــ بنده کيدل څۀ ته وائي؟

پيشکش

اَلْمَدِيْنَةُ الْعِلْمِيَة

Islamic Research Center

(شعبہ: بیاناتِ دعوتِ اسلامی)

FOR FEEDBACK
(+92) 315 2692 786

GET MORE SPEECHES
(+92) 310 8882 033

اَلۡحَمۡدُ لِلّٰهِ رَبِّ الۡعٰلَمِيۡنَ ۙ وَ الصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلٰی خَاتَمِ النَّبِیّٖن ؕ
اَمَّا بَعۡدُ فَاَعُوۡذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیۡطٰنِ الرَّجِیۡمِ ؕ بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ ؕ

اَلصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلَیۡكَ یَا رَسُوۡلَ الله　　وَعَلٰی اٰلِكَ وَاَصۡحٰبِكَ یَا حَبِیۡبَ الله
اَلصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلَیۡكَ یَا نَبِیَّ الله　　وَعَلٰی اٰلِكَ وَاَصۡحٰبِكَ یَا نُوۡرَ الله

نَوَیۡتُ سُنَّتَ الۡاِعۡتِکَافِ (ترجمه: ما د سُنَّت اعتكاف نِيَّت اوكړو)

## د دُرُودِ پاک فضيلت

**د اخري نبي، رسولِ هاشمي** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **فرمان مبارک دے:** بے شكه د قيامت پهٔ ورځ به پهٔ خلقو كښې د ټولو نه زيات نزدې ما ته هغه وي چا چې پهٔ دُنيا كښې پهٔ ما باندې ډېر درود لوستلے وي- (1)

زبان و قلب کی عظمت درود پاک سے ہے | ہر ایک غم میں حفاظت درودِ پاک سے ہے

**وضاحت:** د قيامت پهٔ ورځ به زمونږ د خوږ آقا و مولا، مكي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوريدلے كيږي هم، منلے كيږي هم، چې داسې خبره ده نو بيا خو زمونږ د ګنهګارانو كار وشو-

صَلُّوا عَلَی الۡحَبِیۡب!　　صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

[1]… ترمذی، ابوابُ الْوِتْر، صفحه:144، حديث:484۔

## د بيان اوريدلو نيتونه

پۀ **حديثِ پاک** کښې دي: اِنَّمَا الۡاَعۡمَالُ بِالنِّیَّات د اعمالو دار و مدار پۀ نيتونو دے۔ (1)

**اے د خوږ نبي** صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم **عاشقانو!** پۀ ښو ښو نيتونو د عمل ثواب زياتيږي۔ راځئ چې د بيان اوريدو نه مخکښې څۀ ښه ښه نِيَّتونه اوکړئ: مَثَلاً ◈ د الله پاک د رضا د پاره به ټول بيان اورم ◈ پۀ اَدب به کښېنم ◈ ښه پۀ توجُّه به بيان اورم ◈ څۀ چې واورم، د هغې به د يادولو، ېخپله پرې د عمل کولو او نورو ته د رَسولو کوشش کووم۔

صَلُّوا عَلَی الۡحَبِیۡب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

## د عقيدۀ تَوحِيد مختصر تشريح

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** اَلۡحَمۡدُ لِلّٰه! مونږ مسلمانان يو، د الله پاک پۀ فضل او کرم سره زمونږه ربښتوني، پخه، سوچه او بالکل ښکاره او پۀ عقل کښې راتلونکې صفا سوتره عقيده ده چې ◈ الله پاک يو دے ◈ د هغۀ هيڅ څوک شريک نشته ◈ هم هغه خالق دے ◈ هم هغه مالِک دے ◈ هم هغه ټولو له رزق ورکوي ◈ هم هغه د ټولو پالونکے دے ◈ د هغۀ پۀ ذات او صفتونو کښې د هغۀ پۀ شان نۀ څوک شته، او نۀ څوک کيدے شي ◈ د هغه هيڅ مثال نشته ◈ څوک د هغۀ سيال نشته ◈ څوک د هغۀ برابر نشته ◈ بس هم هغه يو واحِد او تنها د عبادت لائق دے۔

---

[1]... بخاری، کتاب بدء الوحی، صفحه:65، حدیث:1۔

سب کا پیدا کرنے والا، میرا مولیٰ، میرا مولیٰ
سب سے افضل، سب سے اعلیٰ، میرا مولیٰ میرا مولیٰ
سب کو وہ ہی دے ہے روزی، نعمت اُس کی، دولت اُس کی
رازِق داتا، پالن ہارا، میرا مولیٰ میرا مولیٰ
ہم سب اُس کے عَاجِز بندے، وہ ہی پالے، وہ ہی مارے
خوبی والا، سب سے نیارا، میرا مولیٰ میرا مولیٰ
طاعت، سجدہ اُس کا حق ہے، اُس کو پُوجَو وہ ہی ربّ ہے
اللہ، اللہ اللہ، میرا مولیٰ میرا مولیٰ (1)

## سُورۀ اِخلاص او عقيدۀ تَوحِيد

د مکے کافرانو چې کله د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نه پوښتنه اوکړه: هغه الله د چا د عبادت طرف ته چې تاسو رابللِ کوئ، هغه څوک دے؟ د هغۀ شناخت څۀ دے؟ د دې سوال پۀ جواب کښې الله پاک وفرمائيل:

قُلْ (پاره:30، سورۀ اخلاص:1)

[مفهوم] ترجمۀ کنزُ العِرفان: تۀ وفرمايه: (2)

سُبْحٰنَ الله!

---

1…رياض نعيم، صفحه:17 ملتقطاً۔

2…تفسير طبرى، پاره:30، سورۀ اخلاص، زيرِ آيت:1، جلد:12، صفحه:740، رقم: 38299 خلاصةً۔

قُلْ کہہ کے اپنی بات بھی لَب سے ترے سُنی | اللہ کو ہے اتنی تری گفتگو پسند (1)

تاسو وګورئ! سوال دے: الله پاک خوک دے؟ د دې په جواب د الله پاک شان بيانول دي خو قربان شم! الله پاک وفرمائيل: اے محبوبِ ذِيشانه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ! ◈ ستاسو د رسالت اِعلان چې کول وي نو زۀ يې پخپله کووم ◈ ستاسو شان او عظمت چې بيانول وي نو زۀ يې پخپله بيانوم ◈ ستاسو د نُوراني مخ ذِکر چې کول وي نو

وَالضُّحٰى ۙ (پاره:30، سورۀ ضحیٰ:1) | يعني :د مخ د مصطفے قَسَم-(2)

زۀ فرمايم ◈ ستاسو د مقدسو سترګو شان چې بيانول وي نو

مَازَاغَ الْبَصَرُ (پاره:27، سورۀ نجم:17) | يعني:هغه سترګي کومو چې د خدائے د نور جلوې ته په يو مخ وکتل-(3)

زۀ فرمايم ◈ ستاسو د منور زړۀ خبره ذکر چې کول وي نو

مَاكَذَبَ الْفُؤَادُ مَا رَاٰى (پاره:27، سورۀ نجم:11) | يعني: د خدائے د نور جلوې ښۀ پيژندلو والا زړۀ-

زۀ فرمايم ◈ ستاسو د سراسر رحمت کېدو بيان چې کول وي نو

---

1…ذوقِ نعت، صفحه:127-

2…تفسير روح المعانی، پاره:30، الضحیٰ، زيرِ آيت:2، جلد:30، صفحه:520-

3…تفسير طبری، پاره:27، سورۀ نجم، زير آيت:17، جلد:11، صفحه:518، رقم :32525-

| | |
|---|---|
| وَمَاۤ اَرْسَلْنٰكَ اِلَّا رَحْمَةً لِّلْعٰلَمِیْنَ (پاره:17، سورۂ انبیاء:107) | [مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: او مونږه تهٔ د ټولو جهانونو د پاره رحمت لیږلے یې- |

زهٔ فرمایم- خو اے خوږه محبوبه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ! اوس زما شانِ اُلُوهیت [یعني د الله پاک د خُدایئ د صفت شان] او زما تَوحِید بیانول دي، دا تاسو پهٔ خپله خُلهٔ مبارکه باندې بیان کړئ! نو وه یې فرمائیل:

| | |
|---|---|
| قُلْ (پاره:30، سورۂ اخلاص:1) | [مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: تهٔ وفرمایه: |

څهٔ وئیل دي؟ وه یې فرمائیل:

| | |
|---|---|
| قُلْ هُوَ اللّٰهُ اَحَدٌ(۱) اَللّٰهُ الصَّمَدُ(۲) لَمْ یَلِدْ ﳔ وَلَمْ یُوْلَدْ(۳) وَلَمْ یَكُنْ لَّهٗ كُفُوًا اَحَدٌ(۴) (پاره:30، سورۂ اخلاص:41) | [مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: هٰغه الله یو دے- الله بے پروا دے- نهٔ د هغهٔ نه څوک پیدا دي او نهٔ هغه د چا نه پیدا دے- او هیڅ څوک د هغهٔ برابر نشته- |

سُبْحٰنَ الله! څومره پهٔ ښکلي انداز کښې زما د رَبِّ کریم ډېر عظیم شانونه بیان شوي دي، تاسو د قرآنِ کریم مبارک اُسلُوب ته وګورئ! د عِلم پهٔ مېدان کښې **مسئله تَوحِید** ډېر ګران ګڼلے شي خو د قرآنِ کریم څومره ښکلے شان دے چې ډېره سخته مسئله هم دومره اسانه بیان کړي چې که څوک بالکل اَن پړ اِنسان هم د سُورۂ اِخلاص صرف ترجمه هم ولولي نو د الله پاک پهٔ تَوحِید باندې به پوهه شي- څومره پهٔ ساده الفاظو کښې د تَوحِید شان بیان شو،

فرمائي: ◈ هُغه الله پاک يو دے، يواځې دے، د هغهٔ څوک شريک نشته ◈ هغه بے نيازه دے، د چا محتاج نهٔ دے، ټول مخلوق د اوربېدو د پاره د غوربېدونو محتاجه، د ليدو د پاره د سترګو محتاجه، د نيولو د پاره د لاسونو محتاجه، د ګرځېدو د پاره د ښپو محتاجه نور خو نور د الله پاک نه سِوا چې څهٔ هم دي، ټول پهٔ ټوله د ژوندي پاتې کېدو د پاره د الله پاک د عطا محتاجه دي خو هغه واحِد او تنها ذات دے چې هغه پهٔ هر لحاظ سره بالکل بے نيازه دے، پهٔ يو ساعت، پهٔ يو لحاظ سره، پهٔ څهٔ معامله کښې هم محتاجه نهٔ دے ◈ د هغه يو والے دې حَد ته رسېدلے دے چې نهٔ د هغه اولاد شته، نهٔ هغه د چا اولاد دے ◈ او پهٔ ټولو مخلوقاتو کښې څوک هم داسې نشته کوم چې د هغهٔ سيالي اوکړے شي۔

| | |
|---|---|
| اللہ واحد و یکتا ہے | ایک خدا بس تنہا ہے |
| کوئی نہ اس کا ہمتا ہے | ایک ہی سب کی سنتا ہے |

لَآاِلٰهَ اِلَّااللّٰه، اٰمَنَّا بِرَسُوْلِ اللّٰه

| | |
|---|---|
| ہر ہر ذَرَّہ ہر قطرہ | شاہِد ہے ہر ہر لمحہ |
| اس کی قدرت و صنعت کا | یکتائی و وَحْدَت کا |

لَآاِلٰهَ اِلَّااللّٰه، اٰمَنَّا بِرَسُوْلِ اللّٰه(1)

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

---

1…سامانِ بخشش، صفحه:3332 بتقديم و تاخير۔

# د الله پاک د موجودتيا او د يو والي دليلونه

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! الله پاک يو دے، د دې دليل څۀ دے؟ نن سبا ***Atheists*** مُلحدين (يعنې د دِين نه اِنکار کوونکي) دې خبرې له ډېر زور ورکوي چې الله پاک شته نو دليل راکړئ، تاسو يو خُدائے منئ نو دليل راکړئ- افسوس چې دا د عقل ړانده په خپل وجود باندې غور نۀ کوي، په خپل ګېر چاپېره خور دومره لوئي کائنات باندې هم غور نۀ کوي- قرآنِ کريم ډېر اسان دليلونه ورکړي دي، فرمائي:

| | |
|---|---|
| اَمۡ خُلِقُوۡا مِنۡ غَيۡرِ شَیۡءٍ اَمۡ هُمُ الۡخٰلِقُوۡنَ (پاره:27، سورهٔ طور:35) | [مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: آيا هغوئي د څۀ څيز نه بغير پيدا کړے شوي دي يا هغوئي پخپله (خپل) خالِق دي؟ |

قرآنِ کريم د غور دعوت ورکوي، اے خلقو! غور اوکړئ! آيا تاسو بغير د څۀ څيز نه پخپله پيدا شوئ؟ يا تاسو هم پخپله ځان جوړ کړو؟

لږ په خبره باندې ځان پوهه کړئ: مونږ چې په خپل ذات باندې غور اوکړو، آيا زما د پيدائش څۀ ذريعه شته که نشته؟ يقيناً زما مور او پلار زما د پيدائش ذريعه جوړه شوه- بيا پوښتنه اوکړئ! زما مور او پلار پخپله پيدا شوي وو؟ يا د هغوئي د پيدائش هم څۀ ذريعه شته؟ يقيناً چې زما د پلار د طرف نه نيا نيکه، د مور د طرف نه نيا نيکه زما د مور او پلار د پيدائش ذريعې دي- داسې وړيسې بره ځئ! په دې ټول کائنات کښې د فرښتو او د پېريانو نه علاوه صرف اِنسان عقلمند او باشعوره مخلوق دے، چې کله داسې عقلمند، باشعوره اِنسان کوم چې ◈ سپوږمۍ ته د ختو دعوىٰ لري ◈ کوم چې ګاډي جوړوي ◈ کوم چې

د اوبو نه بجلي جوړوي ◈ کوم چې موبائل، ګړۍ، سپيس کرافټ او پته نهٔ لګي چې د څهٔ څهٔ جوړولو صلاحيت لري، چې هُغه اِنسان هم پخپله نشي پېدا کېدے نو ووايئ چې دا غرونه، دا هواګانې، دا ستوري، دا زمکه، دا اسمان، دا هر څهٔ پخپله څنګه پېدا کېدے شي؟ نشي پېدا کېدے- کله چې يو څيز پخپله نشي کېدے نو يقيناً د دې ټول کائنات جوړوونکے خو څوک شته - **څوک چې دے، هُم هغه خُدائے دے-**

## آيا تاسو خَالِق يـئ---؟

الله پاک نور فرمائي:

اَمۡ هُمُ الۡخٰلِقُوۡنَ

(پاره:27، سورهٔ طور:35)

[مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: يا هغوئي پخپله (خپل) خالِق دي؟

دا د يوې بلې زاويې نه سوال دے، فرمائي: آيا خلقو هُم پخپله ځان جوړ کړے دے؟ مثلاً: **زهٔ يو ژوندے جاړ اِنسان** ستاسو مخې ته موجود يم، کله چې زهٔ نهٔ ووم، لا پېدا شوے هم نهٔ ووم نو آيا داسې وشول چې هُغه وخت کله چې زهٔ ووم هم نهٔ نو ما پخپله خپل ځان پېدا کړو---؟ نا! دا خو بالکل د لېونو خبره ده- چې کله زهٔ ووم هم نهٔ نو پخپله خپل ځان زهٔ څنګه جوړولے شم- معلومه شوه چې څوک نهٔ وي، هغه پخپله خپل ځان نشي جوړولے- چې سائنس هم مني چې دا دُنيا مخکښې نهٔ وه، وروستو پېدا شوې ده نو سوچ اوکړئ چې که يو ژوندے جاړ، عقل او شعور لرونکے اِنسان هم خپل ځان پخپله نشي پېدا کولے نو دې کائنات پخپله خپل ځان څنګه جوړ کړو؟ لهٰذا دا خبره به منل وي چې څوک خو شته، کوم چې دا کائنات پېدا کړے دے- چا چې دا کائنات جوړ کړے دے، **هُم هغه خُدائے دے-**

| | |
|---|---|
| تعریف اس خدا کی جس نے جہاں بنایا | کیسی زمیں بنائی، کیا آسماں بنایا |
| پاؤں تلے بچھایا کیا خُوب فرشِ خاکی | اور سر پہ لاجوَردی اِک سائباں بنایا |
| خوش رنگ اور خوشبو گُل پُھول ہیں کِھلائے | اس خاک کے کھنڈر کو کیا گلستاں بنایا |
| ہر چیز سے ہے تیری کاریگری ٹپکتی | یہ کارخانہ تُونے کب رائیگاں بنایا |

## اِمامِ اعظم رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه او د خُدائے نه اِنكاري

اِمامِ اعظم، اِمامِ ابو حنيفه رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه ډېر زيات عقلمند وو، کوم خلق چې د خپلې بېوقوفۍ او بے عقلۍ په وجه د الله پاک د موجودتيا نه هم اِنکار کوي، ځوک چې وائي چې دُنيا پخپله جوړه شوه او هم پخپله چليږي، اِمامِ اعظم رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه د خپلو دليلونو په ذريعه د هغوئي ژوند ګران کړے وو، ځکه دا خلق کومو ته چې دهريان وئيلے شي، د اِمامِ اعظم رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه د سر دښمنانان شول، يو ځل اِمامِ اعظم رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه په جومات کښې يواځې ناست وو، دهريانو چې موقع وليدله نو توري يې راواخستې او د هغوئي د شهيد کولو د پاره راغلل، اِمامِ اعظم رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه ډېر په اطمينان سره وفرمائيل: زما د يوې پوښتنې جواب راکړئ! بيا چې څۀ غواړئ او يې کړئ- هغوئي ووئيل: وايئ! څۀ پوښتنه ده؟ وه يې فرمائيل: زۀ دا وخت ډېر په ژور سوچ کښې يم، يوه ډېره غټه کشتۍ ده په کومه کښې چې قِسما قِسم سامان دے، خو نۀ ځوک د دې حفاظت کوي، نۀ چلولو والا شته، د دې باوجود هُغه کشتۍ مسلسل په سمندر کښې سفر کوي، د سمندر په طوفاني چپو کښې راتېرېږي، د ودرېدو په ځائے باندې ودرېږي او د تللو په ځائے باندې تېرېږي- بيا هُغه دهريانو کوم چې د هغوئي د شهيد کولو د پاره راغلي وو، په حېرانتيا سره ووئيل: تاسو په کوم سوچ کښې ډوب يئ، آيا

څوک عقلمند اِنسان داسې سوچ کولے شي؟ دومره غټه کشتۍ، د تجارتي سامان سره، په طوفاني سمندر کښې بغېر د چلوونکي نه څنګه چلېدے شي؟ اِمامِ اعظم رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه وفرمائيل: بس هم دغه خو زۀ وايم- کله چې يوه وړه شان کشتۍ بغېر د چلوونکي نه نشي چلېدے نو دا ټوله دُنيا، زمکه او اسمان، نمر، سپوږمۍ ستوري، هر څۀ په خپل کار کښې لګيا دي، په پابندۍ سره په وخت باندې موسمونه بدليږي، په وخت باندې شپه راځي، په وخت باندې ورځ راځي نو دومره لوئي کائنات بغېر د خالق او مالِک نه څنګه چلېدے شي؟ دا خبره چې يې واورېدله نو هُغه کوم چې د شهيد کولو د پاره راغلي وو، ټولو کلمه ووئيله او مسلمانان شول- (1)

کوئی تو ہے جو نظامِ ہستی چلا رہا ہے، وہی خدا ہے
دکھائی بھی جو نہ دے، نظر بھی جو آرہا ہے، وہی خدا ہے

## شپه هم د تَوحِيد دليل دے

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! يقين اوکړئ! تاسو د قرآنِ کريم تلاوت کوئ! د تفسيرونو په رڼا کښې په دې باندې ځان پوهه کوئ! داسې واضحه واضحه اسان اسان دليلونه اِرشاد شوي دي چې که د آن پړ نه آن پړ اِنسان وي يا د لوئي نه لوئي فلسفي وي، هغه به هم ووائي چې

کوئی تو ہے جو نظامِ ہستی چلا رہا ہے، وہی خُدا ہے

1... تفسيرِ کبير، پاره:1، البقره، زيرِ آيت:22، جلد:1، صفحه:333-

الله پاک فرمائي:

| | |
|---|---|
| قُلْ اَرَءَیْتُمْ اِنْ جَعَلَ اللّٰهُ عَلَیْكُمُ الَّیْلَ سَرْمَدًا اِلٰى یَوْمِ الْقِیٰمَةِ مَنْ اِلٰهٌ غَیْرُ اللّٰهِ یَاْتِیْكُمْ بِضِیَآءٍؕ-اَفَلَا تَسْمَعُوْنَ (پاره:20، سورهٔ قصص:71) | [مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: تهٔ وفرمايه: تاسو وګورئ خو! که الله پهٔ تاسو باندې د قيامته پورې هميشه شپه جوړه کړي نو د الله نه سِوا بل څوک معبود دے چې هغه به تاسو لره رڼا راوړي نو آيا تاسو نهٔ اورئ؟- |

څومره واضحه دليل دے، نن چې سائنس څومره هم ترقي کړې ده، زمونږ مخې ته ده، د دې باوجود څومره داسې ملکونه دي، چرته چې 6 مياشتې شپه وي، څومره داسې ملکونه دي، چرته چې 3 مياشتې شپه وي، نمر هډو راخېژي نهٔ- ووايئ چې سائنس او ټيکنالوجي که هر څومره ترقي اوکړي، آيا داسې څهٔ حالت شته چې پهٔ دغه ملکونو کښې روزانه نمر راوخېژولے شي؟ نشته- نو ګويا الله پاک فرمائي: پهٔ کومو ملکونو کښې چې مونږ درې مياشتې شپه کېښوده، تاسو خو د هغه درېو مياشتو پهٔ شپه کښې هم نمر نشئ راخېژولے، بيا سوچ اوکړئ چې که مونږ د قيامته پورې صرف شپه جوړه کړو، ورځ هډو رانهٔ ولو نو څوک دے چې ستاسو د پاره ورځ راولي؟ **آيا د الله پاک نه سِوا هم څوک خُدائے شته؟ باليقين نشته-**

کوئی تو ہے جو نظامِ ہستی چلا رہا ہے، وہی خدا ہے
دکھائی بھی جو نہ دے، نظر بھی جو آرہا ہے، وہی خدا ہے
سفید اُس کا، سیاہ اُس کا، نفس نفس ہے گواہ اُس کا
جو شعلۂ جاں کو جلا رہا ہے، بجھا رہا ہے، وہی خُدا ہے

# د عقيدۀ تَوحِيد عملي تقاضې

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! د عقيدۀ تَوحِيد دا يو څو دليلونه ما ستاسو مخې ته ايښودي دي- پۀ دې باندې نور هم ډېر دليلونه موجود دي، بخپله زمونږ ذات د دې خبرې دليل دے چې الله پاک موجود دے- خېر! اوس ستاسو مخې ته زۀ د تَوحِيد د عقيدې څۀ عملي تقاضې ايښودل غواړم- شاعِرِ مشرق وئيلي وو:

خُودی کا سرِّ نہاں لَاۤ اِلٰہَ اِلَّا اللہ(1)

يعنې د اِنسان پټې صلاحيتونه بهر راوېستل او هغه د ترقئ بام ته رَسوونکے څيز لَاۤ اِلٰہَ اِلَّا اللہ دے-

داسې ووايۀ چې د تَوحِيد عقيده صرف يوه عقيده نۀ ده بلکې دا يو پوره نصاب دے، دا يو پټ طاقت دے ◈ کوم چې اِنسان ته د اِنسانيت حدونه ښائي ◈ دا عقيده اِنسان ته اِنسان جوړېدل ښائي ◈ دا عقيده اِنسان د ترقئ او د کاميابئ هُغه اعلیٰ مقاماتو ته رسوي چې د دې عقيدې نه بغېر هُغه مقاماتو ته د رسېدو سوچ هم نشي کېدے- خو دا به څنګه کېږي؟ اَلْحَمْدُلِلّٰه! د الله پاک فضل دے چې مونږ هم د ماشومتوب نه پۀ پيدائشي توګه مُوَحِّد (يعنې الله پاک يو منونکي) يو- خو ياد ساتئ چې يو تَوحِيد عملي هم وي، يعنې د تَوحِيد عقيده خو اِختيار کړے شوه، مسلمانان هم شو، اوس دا عقيده پۀ خپل عملي ژوند کښې هم راوستل دي- دا به مونږه څنګه راولو، د دې څۀ طريقې زۀ يې ستاسو مخې ته ږدم:

---

1…کلیاتِ اقبال، ضربِ کلیم، صفحہ:527۔

## داتا حُضُور رَحۡمَۃُاللّٰہِ عَلَیۡہ او كَشفُ المَحجُوب

پهٔ 20 صفر شريف د برِّ صغير پاک او هند د مشهور او معروف او د عظيم عِلمي او روحاني شخصيت حُضُور داتا ګنج بخش علي هجويري رَحۡمَۃُاللّٰہِ عَلَیۡہ عرس مبارک وي، داتا حُضُور رَحۡمَۃُاللّٰہِ عَلَیۡہ ډېر لوئي ولي هم وو او ډېر لوئي عالِم هم وو، د هغوئي كتاب دے: **كَشفُ المَحجُوب**- پهٔ دې كتاب كښې هغوئي ډېره لويه عِلمي خزانه بيان كړې ده- د **كَشفُ المَحجُوب** پهٔ رڼا كښې **د تَوحِيد د عقيدې ځينې عملي** تقاضې واورئ!

## د اللّٰه پاک نه حيا

حُضُور داتا ګنج بخش علي هجويري رَحۡمَۃُاللّٰہِ عَلَیۡہ چې د تَوحِيد د عقيدې خبره شروع كړه نو بالكل هم پهٔ شروع كښې هغوئي يو حديثِ پاک وليكلو، خوږ آقا و مولا، مكي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائي: ستاسو نه پهٔ مخكښېنو قومونو كښې يو كَس وو، هغهٔ د تَوحِيد پهٔ عقيده باندې پوخ اِيمان لرلو خو چرې يــې هم څهٔ نېكي نهٔ وه كړې، كله چې د هغهٔ اخري وخت راغلو نو هغهٔ خپل كور والؤ ته ووئيل: كله چې زهٔ مړ شم نو ما وسېزئ، بيا زما اِيره واخلئ او نيمه اېره پهٔ طوفان كښې والوځوئ او نيمه درياب ته وغورځوئ- نو كله چې هُغه اِيمان والا مسلمان وفات شو نو كور والؤ يــې پهٔ وصيت باندې عمل اوكړو، كله چې د هغهٔ اِيره پهٔ هوا كښې والوځولے شوه نو اللّٰه پاک هوا ته حُكم اوكړو: د هغهٔ اِيره حاضره كړئ! كومه اِيره چې درياب ته غورځولے شوې وه، درياب ته اللّٰه پاک حُكم اوكړو: اِيره حاضره كړئ! نو د هغهٔ د پوره اِيرې نه بيرته د هغهٔ پوره وجود تيار كړے شو، د اللّٰه پاک پهٔ دربار كښې حاضر كړے شو، رَبِّ كريم وفرمائيل: تا داسې ولې اوكړل؟ هُغه كَس عرض

اوکړو: اے اللّٰه پاکه! (زۀ ګنهګار ووم، چرې مې هم نيکي نۀ وه کړې) ماله ستا پۀ دربار کښې د حاضرۍ نه حيا راتلله، ځکه ما خپله اِيره پۀ هوا کښې د الوځولو وصيت اوکړو- بس د هغۀ داسې د اللّٰه پاک پۀ دربار کښې د حاضرۍ نه حيا کول د هغۀ پۀ کار راغلل او اللّٰه پاک هغۀ ته بخښنه او مغفرت اوکړو- (1)

سُبْحٰنَ اللّٰه! خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! د اللّٰه پاک رحمت هم ډېر د کمال دے، چا ډېر ښه وئيلي دي:

رَحْمَتِ حَقّ بَہَا نَمِی جَوُیَد | رَحْمَتِ حَقّ بَہَانَه مِی جَوُیَد

**مفهوم:** يعني د اللّٰه پاک د رحمت دا نۀ دي پکار چې لوئي لوئي نيکۍ وي، رحمتِ حق خو بس د بخښنې يوه بهانه ګوري، ځکه کله نا کله د وړوکي عمل پۀ وجه هم بخښنه کيږي-

## وړومبۍ تقاضا: د اللّٰه پاک پۀ دربار کښې د حاضرۍ نه حيا کوئ!

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! حُضُور داتا ګنج بخش علي هجويري رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه هم پۀ شروع کښې دا حديثِ پاک ذِکر کوي او مونږ له دا سبق راکوي چې کوم اِنسان د اللّٰه پاک پۀ وحدانيت باندې اِيمان لري، يو خو دا چې اخر د بخښنې حقدار کيږي، دويم دا چې داسې ګس له پکار دي چې د اللّٰه پاک پۀ دربار کښې د حاضرۍ نه حيا کوي-

واقعي خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! زۀ او تاسو، مونږ ټول مسلمانان يو، زمونږه دا اِيمان دے چې اللّٰه پاک شته ◈ هغۀ دا دُنيا جوړه کړې ده ◈ هم هغه به يوه ورځ دا دُنيا ختموي

---

1…بخارى، کتاب التوحيد، باب قول الله تعالىٰ:يُرِيدُونَ أَنْ يُبَدِّلُوا…الخ، صفحه:1808، حديث:7508 مفهوماً، کشف المحجوب، کشف الحجاب الثانى فى التوحيد، صفحه:331۔

او د قيامت ورځ به قائمېږي ﴿﴾ هم هٰغه مالِکِ کريم، د عظيم قُدرتونو والا دے کوم چې به د دې دُنيا نه پس د حِساب ورځ مقرروي، آؤ! آؤ! پۀ هٰغه ورځ ما او تاسو، مونږ ټولو ته د رَبِّ کريم پۀ دربار کښې حاضرېدل او د خپلو اعمالو حِساب ورکول دي-

## د قيامت پۀ ورځ باندې به مخونه ټيټ وي

الله پاک پۀ قرآنِ کريم کښې فرمائي:

وُجُوۡهٌ يَّوۡمَئِذٍ مُّسۡفِرَةٌ ﴿۳۸﴾ ضَاحِكَةٌ مُّسۡتَبۡشِرَةٌ ﴿۳۹﴾ وَوُجُوۡهٌ يَّوۡمَئِذٍ عَلَيۡهَا غَبَرَةٌ ﴿۴۰﴾ تَرۡهَقُهَا قَتَرَةٌ

(پارہ:30، سورۂ عبس:4138)

[مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: ډېر مخونه به پۀ هٰغه ورځ روښانه وي- پۀ خندا خندا به خوشحالي کوي- او پۀ ډېرو مخونو به پۀ هٰغه ورځ ګرد پروت وي- پۀ هغوئي به تور والے راخورېږي-

اَللّٰهُ اَکۡبَر! کله چې به د قيامت ورځ وي، مونږ ټول به د الله پاک پۀ دربار کښې حاضر يو، پۀ هٰغه ورځ به هر يو پۀ يوه بېله پرېشانئ کښې راګېر وي، ځينې به خوش قِسمته وي، د هغوئي مخونه به پړقېږي ځلېږي، د خپلو نېکو اعمالو پۀ بدله ليدلو به د هغوئي پۀ مخونو باندې مُسکا راخوره وي او آه! ځينې به ګنهګاران وي، هغوئي به پۀ شرم کښې ډوب وي، د مخونو نه به يې رُوح الوتے وي، او د هغوئي د مخونو نه به ذِلت ځڅېږي-

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! دا د الله پاک پۀ دربار کښې د حاضرئ منظر دے- مونږ ټول اَلۡحَمۡدُ لِله! پۀ تَوحِيد [يعني د الله پاک پۀ يو والي] باندې پوخ اِيمان لرونکي يو، د دې عملي تقاضا ده چې مونږ د الله پاک پۀ دربار کښې د حاضرئ نه حيا کوو او سوچ کوو چې پۀ کومو سترګو به د خپل رَبّ پۀ دربار کښې حاضرېږو---؟

# د الله پاک پهٔ دربار کښې د پېش کېدو وِېره

حضرت شيخ سَعدي شِيرازي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: پهٔ مسجد حرام شريف کښې څيني خلق د کعبې شريفې سره نزدې پهٔ عبادت کښې مصروف وو- ناڅاپه هغوئي يو ګَس وليدو چې د کعبې دېوال يې نيولے دے او پهٔ سلګو سلګو ژاړي او د هغهٔ پهٔ شونډو باندې دا دُعا جاري ده، اے الله! که زما اعمال ستا د دربار لائق نهٔ دي نو تهٔ سبا پهٔ قيامت کښې ما ړوند راپاڅوې-

دا عجيبه دُعا چې يې واورېدله نو خلق ډېر حېران شول، هغوئي د دُعا کوونکي نه پوښتنه اوکړه: اے شېخه! مونږ خو پهٔ قيامت کښې د عافيت طلبګاران يو او تاسو د ړوند راپاڅولو دُعا کوئ، پهٔ دې کښې څهٔ راز دے؟ هغه ګَس پهٔ ژړا کښې جواب ورکړو: زما مطلب دا دے چې که زما اعمال د الله پاک د دربار لائق نهٔ وي نو زهٔ پهٔ قيامت کښې دې د پاره ړوند پاڅېدل خوښووم چې زهٔ د خلقو پهٔ مخکښې وه نهٔ شرمېږم- هغه ټولو خلقو چې دا عارفانه جواب واورېدو نو ډېر متاثره شولو او پوښتنه يې اوکړه: اے شېخه! تاسو څوک يئ؟ هغوئي جواب ورکړو: **زهٔ عبد القادر جيلاني يم-** (1)

| | |
|---|---|
| تِرے خوف سے تیرے ڈر سے ہمیشہ | میں تھر تھر رہوں کانپتا یاالٰہی! |
| بنا دے مجھے نیک نیکوں کا صدقہ | گناہوں سے ہر دَم بچا یاالٰہی! |
| عبادت میں گزرے مِری زندگانی | کرم ہو کرم یاخُدا یاالٰہی! (2) |

---

1…کلیات سعدی، گلستان، باب دوم در اخلاق و درویشان، صفحه:49-

2…وسائل بخشش، صفحه:105 ملتقطاً-

اے د خوږ نبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! الله پاک دې زمونږه د اخرت د حِساب وېره نصيب کړي! يقيناً چې مونږ د حِساب ورکولو جوګه نۀ يو، آه! که زمونږ سره حِساب اوکړے شو نو د رسوايۍ نه علاوه به هيڅ لاس ته نۀ راځي- ځکه دُعا کول پکار دي چې الله پاک زمونږه بغير د حِساب نه پۀ خپل رحمت سره، د خپل خوږ محبوب صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پۀ شفاعت سره جَنَّت ته داخلېدل نصيب کړي-

تُو بے حِساب بخش کہ ہیں بے شمار جرم | دیتا ہوں واسطہ تجھے شاہِ حجاز کا(1)

## دوېمه تقاضا: د نفس د خواهشاتو نه منع کېدل

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! د تَوحِيد د عقيدې دوېمه عملي تقاضا ده: د نفس خواهشات پرېښودل او خپل ځان د الله پاک د حکمونو تابع کول- الله پاک پۀ قرآنِ کريم کښې فرمائي:

| | |
|---|---|
| اَفَرَءَیْتَ مَنِ اتَّخَذَ اِلٰهَهٗ هَوٰىهُ (پاره:25، سورۀ جاثيه:23) | [مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: تۀ هغه ته خو وګوره چا چې خپل خواهش خپل خُدائے جوړ کړو |

د دې نه معلومه شوه چې د نفس د خواهشاتو تابعداري کول د ګمراهۍ ذريعه ده- پۀ حديثِ پاک کښې دي: اَبْغَضُ اِلٰهٍ عُبِدَ فِي الْاَرْضِ الْهَوٰى يعنې پۀ زمکه د ټولو نه لوئي خراب معبود د نفس خواهش دے-(2)

---

1...ذوقِ نعت، صفحه:18-

2...جمع الجوامع، جلد:1، صفحه:75، حديث:152، مطبوعه ازهر شريف-

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! دا ډېره د ځان پوهه کولو خبره ده، زمونږ پۀ زړونو کښې چې کوم خواهشات راځي: ◈ د ګناهونو نه ډک خواهشات ◈ د غفلت نه ډک خواهشات ◈ فضول خواهشات ◈ صرف د عارضي خوندونو خواهشات---!! کله چې مونږ د دې خواهشاتو تابعدار جوړ شو او د دې خواهشاتو پۀ وجه د الله پاک حکمونه شاته وغورځوو، مثلاً خلق ◈ د ګټې پۀ فِکر کښې نـمونځونه قضا کوي ◈ د مال پۀ حِرص کښې دروغ وائي، ټګي کوي، دوکې ورکوي- پۀ قرآنِ کریم کښې دا د نفس خواهشات خُدائے جوړول ګرځولے شوي دي چې اِنسان د خپل نفسِ اَمَّاره [یعني پۀ ګناهونو باندې د راپاروونکي نفس] تابعداري داسې کوي، لکه څنګه چې د الله پاک اطاعت کولے شي- دا اګر که شِرک نۀ دے یعني اِنسان د خپل نفس د خواهشاتو پۀ ښکار کېدو د اِسلام نه نۀ بهر کیږي، البته! د تَوحِید د عقیدې عملي تقاضا ده چې د خپل نفس پۀ مخالفت کولو د الله پاک پۀ اطاعت او فرمانبردارۍ کښې مشغول شي-

## مونږ او زمونږ د لذتونو(خوندونو)تابعداري

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! د افسوس خبره ده چې نن مونږ پۀ دُنیا پرستۍ کښې څۀ ډېر مخکښې تلي یو، الله پاک د غیر مسلمو صفت بیان کړے:

| | |
|---|---|
| اَذْهَبْتُمْ طَيِّبٰتِكُمْ فِيْ حَيَاتِكُمُ الدُّنْيَا وَاسْتَمْتَعْتُمْ بِهَاۚ<br>(پارہ:26، سورۂ احقاف:20) | [مفهوم] ترجمۀ کنزُ العِرفان: تاسو د خپلې حصې پاک څیزونه د دُنیا پۀ ژوند کښې فنا کړي دي او د هغې نه مو فائده اوچته کړې ده- |

دا خو د غیر مسلمو صفت دے خو افسوس چې ډېرو مسلمانانو دا عیب هم د ډېره

حده پورې اِختيار کړے دے، زمونږه مخې ته صرف بس دُنيا وي، د اخرت فائدې ته ډېر کم خلق ګوري ◈ زمونږ د ژوند مقصد: لوئې لوئې محلونه جوړول، ګاډي اخستل، مالداره کېدل، کاروبار زياتول ◈ زمونږه د ورځې او شپې معمولات: ګټل، خوړل، اغوستل، اودۀ کېدل ◈ زمونږه خواهشات: شهرت، عزت، واه واه، د ټولو نه جدا ښکارېدل، د ټولو نه ځانګړے اوسېدل ◈ د افسوس خبره دا ده چې کوم خالص دِيني څيزونه دي، يعنې هٰغه کارونه پۀ کومو چې مونږ اخرت ګټلے شو، نن سبا خلق هٰغه د اخرت کارونه هم د دُنيا د خوندونو د پاره کوي، د مثال پۀ توګه ◈ عِلم زده کول ښه عمل دے خو دلته عِلم صرف او صرف د نوکرۍ موندلو، د پيسې ګټلو د پاره زده کولے شي، ځکه خو خلق ډګريانې راجمع کوي، د عِلمِ دِين د زده کولو طرف ته پام نۀ کوي ◈ دغه شان عبادت خو د اخرت د پاره کولے شي، خو دلته خلق عبادت هم د ښودنې د پاره کوي د پاره د دې چې پۀ دُنيا کښې عزت مېلاؤ شي، شهرت مېلاؤ شي، خلقو ته پته ولګي چې دے ډېر سخي دے ◈ ډېر نـمونځ ګزاره پرهيز ګاره دے-

غرض دا چې زمونږ د نظر شروع او اِنتها صرف دُنيا جوړه شوي ، مونږ له څۀ د اخرت د پاره هم بچ ساتل پکار دي، دې طرف ته هډو پام نۀ کيږي، کاش چې مونږ د دُنيا پۀ ځائے د اخرت طلبګاران جوړ شو-

## د غير مسلمو د پاره دُنيا او زمونږ د پاره اخرت

د مسلمانانو دوېم خليفه، حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللہُ عَنْہُ دربار رسالت ته حاضر شو، وه يـې کتل چې د خرمنې يوه تکـيه ده، کومه چې د کجورو د پوستکو نه ډکه کړے شوې ده، سرکارِ عالي وقار، مکي مَدَني تاجدار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هٰغه تکـيه ته ډډه وهلې ده او

د غټو رېشو نه د جوړو کړے شوو رسو (***Coarse Fiber Cords***) نه بښلے شوي کټ کښې ملاست دے، پۀ کټ باندې هيڅ بستره يا کپړه هم نۀ وه، کله چې سرکارِ عالي وقار، مکي مَدَني تاجدار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د کټ نه پاڅېدو نو د هغوئي پۀ وجود مبارک باندې د بوټ نخښې پرتې وې۔

د آقا کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د دُنيا نه د بے رغبتئ دا منظر يـې چې وليدو نو د عاشقِ صادِق حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِيَ اللهُ عَنْهُ زړۀ راډک شو، د سترګو نه يـې اوښکې روانې شوې۔ سرورِ عالَم، نُورِ مُجَسَّم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم چې عاشقِ زار پۀ ژړا وليدو نو وه يـې فرمائيل: اے عمره! ولې ژاړې؟ عرض يـې اوکړو: پۀ خُدائے مې دې قَسم وي! ما ته معلومه ده چې تاسو د الله پاک رسول يـې، د الله پاک پۀ دربار کښې ستاسو ډېر اوچت مقام دے، تاسو د قيصر او کِسرىٰ (رُوم او اِيران د بادشاهانو) نه د ډېر عزت والا يـې، يا رسولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ! ما له ژړا پۀ دې خبره باندې راغله چې قيصر او کِسرىٰ خو د دُنيا پۀ نعمتونو کښې پۀ عيش سره ژوند تېروي او تاسو د الله پاک د رسول کېدو باوجود داسې د دُنيا نه د بے پرواهئ ژوند تېروئ؟ د عاشقِ زار اندېښنه چې يـې واورېدله نو سرکارِ عالي وقار، مکي مَدَني تاجدار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم وفرمائيل: عُمره! آيا تۀ پۀ دې باندې راضي نۀ يـې چې د هٰغه غير مسلمو د پاره دُنيا ده او زمونږ د پاره اخرت دے؟ **(1)**

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** تاسو وکتل چې زمونږه آقا، خوږ خوږ مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به د دُنيا نه څومره بے رغبتي لرله، د دې ځائے د فاني نعمتونو او د عيش او عشرت

---

[1] ...الزهد لامام احمد بن حنبل، زهد عبيد بن عمير، صفحه:448، حديث:2370۔

نه به لرې اوسېدو او خومره ساده او د دُنيا نه د بے پرواهئ ژوند به يـې تېرولو-

سلام اُس پر کہ جس نے بے کسوں کی دستگیری کی

سلام اُس پر کہ جس نے بادشاہی میں فقیری کی

سلام اُس پر کہ جس کے گھر میں چاندی تھی نہ سونا تھا

سلام اُس پر کہ سادہ بوریا جس کا بچھونا تھا

الله پاک دې مونږ ته د نفس په خواهشاتو پسې د تللو نه د بچ کېدو او د قرآن او حديث په حکمونو باندې د عمل کولو توفيق راعطا کړي-

اٰمِيْن بِجَاهِ خاتَمِ النَّبِيّٖن صلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## دريمه تقاضا: د الله پاک په رضا باندې راضي کېدل

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! د حُضُور داتا ګنج بخش علي هجويري رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه د اِرشاداتو خُلاصه ده، فرمائي: (عملي) تَوحِيد دا دے چې اِنسان د الله پاک د مرضى په مخکښې داسې شي، لکه څنګه چې مړے د غسل ورکوونکي په لاس کښې وي-[1] يعني اِنسان داسې بندګي اِختيار کړي چې د الله پاک په يوه فېصله باندې هم لږ شان شَک هم په زړهٔ کښې نهٔ راولي-

## بنده کيدل څهٔ ته وئيلے شي؟

مخکښې دور کښې به غُلامان په باقاعده توګه په بازارونو کښې خرڅېدل، يو ځل

1…كشف المحجوب، كشف الحجاب الثانى فى التوحيد، صفحه:336و 337 خلاصةً-

حضرت ابراهيم بن اَدهَم رَحۡمَۃُاللّٰہِعَلَیۡہ ته د يو غلام حاجت پېښ شو، هغوئي بازار ته تشريف يوړلو، يو غلام يې واخستو او کور ته يې راوستو، هغوئي د هُغه غلام نه پوښتنه اوکړه: ستا څهٔ نوم دے؟ غلام ووئيل: پهٔ کوم نوم چې مې تاسو رابلئ، هغه به زما نوم وي، هغوئي پوښتنه اوکړه چې تهٔ د کوم خوراک خوړلو عادت لرې؟ غلام ووئيل: څهٔ چې تهٔ راکوې خورم به يې، بيا يې پوښتنه اوکړه: چې که څهٔ خواهش دې وي نو ووايه! غُلام ووئيل: څهٔ چې ستاسو خواهش دے، هغه زما هم خواهش دے- زهٔ خو غُلام يم او د غلام د دې څيزونو سره هيڅ تعلق نهٔ وي- پهٔ دې حضرت اِبراهيم بن اَدهم رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه پهٔ سوچ کښې ډوب شو: کاش چې زهٔ هم د الله پاک داسې اطاعت ګزار وے نو څومره به ښه وه- (1)

اے د خوږ نبي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم عاشقانو! دې ته وائي، بنده (يعني غلام) کېدل، بنده هُغه کَس وي د چا چې خپل څهٔ خواهش نهٔ وي، د چا چې خپله څهٔ خوښه نهٔ وي، بنده هميشه د خپل مالِک پهٔ خوښه روان وي، څکه مونږ له هم پکار دي چې که غريبي راشي، پريشاني راشي، مصيبت راشي، چې څهٔ هم وي، مونږ د الله پاک پهٔ فيصله مطمئين يو، کله هم کِيلي معنې پهٔ خُله نهٔ راولو-

## د اللّٰه پهٔ رضا د راضي کېدونکو د پاره زېرے

د الله پاک اخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: طُوۡبٰی لِمَنۡ هُدِیَ لِلۡاِسۡلَامِ

---

[1]… تذکرة الاولیا، حضرت ابراہیم ادھم، صفحه:78۔

وَكَانَ رِزْقُهُ كَفَافًا وَرَضِيَ بِهٖ يعني زېرے دے د هغه چا د پاره چا ته چې د اسلام هدايت ورکړے شو، قدرِ کفايت رِزق ورکړے شو او هغه پهٔ هغې راضي دے۔ (1)

| | |
|---|---|
| تاج و تخت و حکومت مت دے | کثرتِ مال و دولت مت دے |
| اپنی رِضا کا دیدے مُژدہ | یااللہ مِری جھولی بھر دے (2) |

## خلورمه تقاضا: توکل

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! د تَوحِيد د عقيدې يوه عملي تقاضا دا ده چې اِنسان پهٔ الله پاک توکل اوکړي، پهٔ هغهٔ باور لري، کله چې مونږ اومنله چې مالِک هغه دے، رازِق هغه دے، خالِق هغه دے، حافِظ او ناصِر هغه دے، نو پکار دي چې پهٔ خپل خالِق او مالِک باندې پوره پوره يقين هم کوو۔

## کله چې يو غير مسلمه کلمه ووئيله

عبدُ الواحِد بن زيد وائي: يو ځل زهٔ پهٔ سمندري سفر باندې ووم، ناڅاپه تېزه سيلۍ شروع شوه، هغه سيلۍ مونږه يوې شاړې جزيرې ته ورسولو، کله چې مونږ پهٔ هغه جزيره کښې کوز شو نو وه مو کتل چې هلته يو کَس دے کوم چې د غيرُ الله پهٔ عبادت کښې مصروف دے، مونږه ووئيل: مونږ خو به داسې مُشرِک ځان سره نهٔ کښېنوو۔ هغه مُشرِک ووئيل: تاسو د چا عبادت کوئ؟ مونږه ووئيل: د الله پاک۔ وه يې وئيل: الله څوک دے؟

---

[1]... احیاء العلوم، جلد:5، صفحہ:159، ترمذی، کتاب الزہد، صفحہ:561، حدیث:2349 مفہوماً۔

[2]... وسائل بخشش، صفحہ:123۔

مونږه ووئیل: هم هُغه ذات د چا عرش چې د اسمانانو نه بره او حُکومت پۀ زمکه باندې (هم) دے۔ مُشرِک پوښتنه اوکړه: تاسو د هغۀ نه څنګه خبر شوئ؟ مونږه ووئیل: الله پاک خپل یو رَسُول رالیږلے دے، هغوئي معجزې وښودلې، هم هُغه رسولِ مَقبُول صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم مونږ د الله پاک نه خبر کړو۔ مُشرِک ووئیل: بیا ستاسو د هُغه رَسُول څۀ وشو؟ مونږ ووئیل: کله چې هغوئي د الله پاک پیغام پوره پوره مونږ ته راورسولو نو رَبِّ کریم هغوئي د ځان خوا ته وبللو۔ مُشرِک ووئیل: آیا د هغوئي څۀ نخښنه ستاسو سره شته؟ مونږه جواب ورکړو: آؤ! د الله پاک کتاب دے۔ وه یې وئیل: راوړئ! ما ته یې وښایئ!

بیا مونږ هغۀ ته قرآنِ کریم وښودلو۔ هغه واړولو راواړولو او وه یې وئیل: ما له خو د دې لوستل نۀ راځي۔ نو مونږ هغۀ ته پۀ لوستلو واورولو۔

الله! الله! د قرآنِ کریم څومره ځانګړے شان دے، مونږ چې څنګه تِلاوت اوکړو، د قرآنِ مجید مقدس الفاظ د اثر غشي جوړ شو او د هغۀ پۀ زړۀ ولګېدل، هغۀ تِلاوت اورېدو او ژړېدو، اخر یې ووئیل: **دا چې د کومې هستۍ کلام دے، حق جوړیږي چې د هغۀ نافرماني اونکړے شي۔ پۀ دې وئیلو هُغه مُشرِک کلمه ووئیله او مسلمان شو۔**

بیا مونږه هغه د ځان سره پۀ سمندري جاز کښې کښېنولو۔ پۀ لاره کښې هغۀ ته مونږه د قرآنِ کریم یو سُورت هم وښودلو۔ کله چې شپه شوه نو مونږ ټول خپلو بسترو ته روان شو، هُغه نوي مسلمان شوي ووئیل: اے قومه! هُغه خُدائے د چا شناخت چې تاسو زما سره اوکړو، آیا هغه اودۀ کیږي هم؟ مونږه ووئیل: نا، هغه **حَیٌّ وقَیُّوم** دے، هغۀ له نۀ خوب ورځي او نۀ پرکالي۔ دا یې چې واورېدل نو هُغه نوي مسلمان شوي ووئیل: دا بے ادبي ده چې اِنسان د خپل مالِک پۀ مخکښې اودۀ وي۔ دا یې چې ووئیل نو هغه ودرېدو، ټوله شپه یې

ژړل، ژړل، د دې پورې چې سحر شو۔

عبدُ الواحِد بن زيد فرمائي: کله چې مونږه عِبَادان (نومې ښار) ته ورسېدو نو مونږه دوستانو پهٔ شريکه څهٔ پيسې راجمع کړې او هُغه نوي مسلمان شوي کس له مو ورکړې۔ پيسې يې چې وليدې نو هغه ووئيل: دا څهٔ دي؟ مونږه ووئيل: مونږه ستاسو مدد کوو۔ هغه پهٔ بې نيازی سره ووئيل: سُبْحٰنَ الله! تاسو ما ته هُغه لاره وښودله، د کومې چې درته پخپله هم پته نشته۔ زهٔ چې کله پهٔ جزيره کښې ووم، د غيرُ الله عبادت مې کولو، الله پاک هُغه وخت زهٔ ورپے وه نهٔ ساتلم نو اوس به مې څنګه ضائع کوي؟ دا يې ووئيل او هغه زمونږ نه جُدا شو۔ (1)

سُبْحٰنَ الله! څومره ښکلے شان دے، کاش چې زمونږه هم د هُغه صاحبِ اِيمان پهٔ شان کامِل اِيمان نصيب شي، زمونږه هم پهٔ الله پاک باندې واقعي پهٔ صحيح معنو کښې توکل نصيب شي۔

## د بيان خُلاصه

بهر حال خوږو او محترمو اِسلامي ورونو! مونږه اَلْحَمْدُلِلّٰه! پهٔ الله پاک باندې اِيمان خو لرو، مونږ له پکار دي چې د عقيدهٔ تَوحِيد عملي تقاضې هم اِختيار کړو، پهٔ مختصر توګه ما د کَشفُ المَحجُوب شريف پهٔ رڼا کښې يو څو تقاضې عرض کړې دي: (1): د الله پاک پهٔ دربار کښې د حاضری نه حيا کول (2): د نفس د خواهشاتو نه منع کېدل (3): د الله پاک پهٔ رضا باندې راضي کېدل او (4): پهٔ الله پاک باندې کامِل تَوَکُّل ساتل، دا د عقيدهٔ تَوحِيد

---

[1] ...نزہۃ المجالس، باب فضل الصلوات ليلا و نهارا و متعلقاتها، جز:1، صفحه:144۔

4 عملي تقاضې دي، اللّٰه پاک دې مونږ ته د ټولو تقاضو په عملي توګه د اِختيارولو او په دې باندې د عمل کولو توفيق راعطا کړي- اٰمِيۡنۡ بِجَاهِ خاتَمِ النَّبِيّٖن صلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## د دعوت اسلامي د يوې شعبې تعارف: ايف جي آر ايف

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! دعوتِ اِسلامي د عاشقانِ رسول دِيني تنظيم دے- د دې تنظيم په ذريعه په لويه پيمانه د دِينِ اِسلام خِدمت کيږي .

د ديني کارونو سره سره د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د غم زېلي اُمت خير ښېګړه هم جاري ده دې دپاره فيضان ګلوبل ريليف فاؤنډيشن (*FGRF*) په نوم يوه شعبه جوړه کړے شوې ده- چې ◈ د مسلمانانو د خير ښېګړې ◈ د يتيمانو د پالنې ◈ په ناڅاپي افتونو کښې د مسلمانانو د اِمداد ◈ د ونو نالولو ◈ د وينې ورکولو ◈ د کورونو جوړولو ◈ راشن ◈ او طِبي اِمداد ◈ او د دې نه علاوه په مختلف کچ خپلې فريضې ترسره کوي-

د دې شعبې په ذريعه اوسه پورې تقريباً ◈ 87 زره 452ډراپونه وينه عطيه ◈ په مختلفو ناڅاپي افتونون کښې اخته 1کروړ 1لاک87زره106کسانو مالي مرسته ◈ د صحت د مرکز په ذريعه تقريباً د1لاک 2زره 47کسانو طِبي مرسته شوې ده ◈ او تقريباً 35 لاکهه 6زره 733ونې نالې کړے شوې دي-

صَلُّوا عَلَى الۡحَبِيب!　　صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د مَعرِفَةُ الـقُرآن موبائل ايپلي کېشن تعارف

خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! د عاشقانِ رسول د ديني تحريک دعوتِ اِسلامي آئي ټي

ډيپارټمنټ يو ډېر ښکلے موبائل ايپلي کېشن په نوم د **مَعرِفَةُ الـقُرآن** جاري کړے دے۔ تاسو د دې ايپلي کېشن په ذريعه ◈ د قرآنِ پاک لفظي او با مُحَاوَرَه ترجمه لوستلے شئ ◈ په دې ايپلي کېشن کښې د آيتونو عنوانات هم ورکړے شوي دي، د کومو په مدد چې د خپلې خوښې مطابق موضوع او قرآني آيتونه کتلے او لټولے شئ۔ خصوصاً مبلغ اِسلامي ورونړه د دې آپشن نه ډېر مدد اخستے شي ◈ په دې ايپلي کېشن کښې سرچ آپشن هم موجود دے، د کوم په مدد سره چې د آيتونو په لټولو کښې اساني پيدا کيږي ◈ د موضوعاتو د پن پوائنټ کولو آپشن هم ورکړے شوے دے۔ تاسو هم دا ايپلي کېشن انسټال کړئ! پخپله تربنه هم فائده واخلئ او نورو له هم د دې ترغيب ورکړئ!

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب!　　صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## يو څو ضروري اِعلانونه

◈ **خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** د هر خالي په ورځ اميرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه په **مَدَني چينل لائيو هفته واره مَدَني مذاکره** کوي، د راتلونکې خالي په ورځ به هم په مَدَني چېنل د ماسخوتن د نـمونځ نه پس 9:45 بجې اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيم! هفته واره مَدَني مذاکره کيږي، په کومه کښې چې به شيخِ طريقت، اميرِ اهلِسُنَّت مولانا الياس عطّار قادري دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د سوالونو جوابونه هم ورکوي۔ ټول ذِمه داران او عاشقانِ رسول دې په دې مَدَني مذاکره کښې پخپله هم شرکت اوکړي او نورو له دې هم دعوت ورکړي ◈ شيخِ طريقت، اميرِ اهلِسُنَّت هره هفته د يوې **ديني رسالې** لوستلو ترغيب ورکوي، په راتلونکې هفته واره مَدَني مذاکره کښې به د رسالہ **د الله والؤ 12 واقعې** اعلان کولے شي۔ دا رساله پخپله هم ولولئ! نورو له هم د دې

ترغيب ورکړئ او څوک چې سوشل میډیا مثلاً واټس اېپ وغیره استعمالوي هغوئي دې د الله پاک د رضا او د ثواب د پاره دا رساله د نورو سره هم شېئر کړي! ◈ اعلیٰ حضرت اِمام احمد رضا خان رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه ، ډېر لوئي مفتي، با عمله عالِمِ دِين او د پينځلسمې صدۍ مجدد تېر شوے دے- مکـتبة الـمدينه د اعلیٰ حضرت رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه په ◈ سيرت ◈ صفتونو ◈ علمي کارنامو ◈ او په دِيني خدمتونو يو جامع او اسان کتاب په نوم د **سيرتِ اِمامِ احمد رضا** چاپ کړے دے- دا کتاب د مکـتبة الـمدينه د يوې څانګې نه په **280 روپۍ** په بيعه حاصل کړئ- پخپله يـې هم ولولئ او نورو له هم د دې ترغيب ورکړئ!

صَلُّوا عَلَى الۡحَبِيب!　　　صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونو!** اَلۡحَمۡدُلِلّٰه! دعوتِ اِسلامي هر کال د اګست په مياشت کښې د خوږ وطن پاکستان ښائسته شين جوړولو د پاره وَنې نالوي، د دعوتِ اِسلامي په دې مقصد **بوټے نالول دي وَنه جوړول دي** کښې تاسو هم شامل شئ او د شرعي احتياطونو سره کم از کم يو بوټے نال کړئ او د هغې د وَنې جوړولو کوشش اوکړئ- د بيان په اخره کښې **د وَنو نالولو** په باره کښې يو څو مَدَني ګلونه پېش کووم-

## وَنې نالې کړئ! ثواب وګټئ!

**د اخري نبي، رسولِ هاشمي** صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **2 فرامين مبارک:(1):** چا چې يوه وَنه ناله کړه او د هغې يـې حفاظت اوکړو او په خسمانه کولو باندې يـې صبر اوکړو د دې پورې چې هغه مېوه ونيسي نو د هغې نه چې کومه دانه خوړلے کيږي په هره [دانه] باندې د الله

پاک پهٔ نزد د هٔغه (نالوونکي) د پاره صدقه ده- [1] (2): کوم مسلمان چې وَنه ناله کړي يا فصل وکري بيا چې د هغې نه څهٔ مرغۍ، انسان يا څناور خوري نو دا به د هغهٔ د طرف نه صدقه وي- [2]

**خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو!** وَنې نالول د نبي پاک صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نه ثابت دي او د صحابهٔ کرامو رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُم سُنَّت عمل دے ◈ رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د حضرت سلمان فارسي رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ د پاره تقريباً د کجورو 300 وَنې پهٔ خپلو مبارکو لاسونو باندې نالې کړې وې [3] ◈ پهٔ دې وَنو کښې يوه وَنه د مسلمانانو دويم خليفه حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ هم ناله کړې وه [4] ◈ حضرت ابو هريره رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ به هم وَنې نالولې [5] ◈ حضرت امير معاويه رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ هم پهٔ خپل اخري عمر کښې د کر کيلې کار شروع کړے وو- [6]

**پهٔ تفسير کبير کښې دي:** د نهرونو کنستلو او د وَنو نالولو پهٔ وجه به د فارس (ايران) د بادشاهانو عمرونه زيات وو- [7]

**د وَنو فائدې:** ◈ وَنې بوټي کاربن ډائي آکسائيډ (***Carbon dioxide***) اخلي ◈ آکسيجن ورکوي ◈ فضائي آلودګي کموي ◈ ماحول يخوي او ښه کوي ◈ د لېنډ

---

[1] … مسند احمد، جلد:6، صفحه:701، حديث:17037۔

[2] … مسلم، کتاب المساقاة، باب فضل الغرس و الزرع، صفحه:604، حديث:1553۔

[3] … دلائل النبوة، باب ماظهر فى النخل التى غرسها النبى صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَآلِهٖ وَسَلَّم ...الخ، جلد:6، صفحه:97 بتصرف۔

[4] … دلائل النبوة، باب ماظهر فى النخل التى غرسها النبى صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَآلِهٖ وَسَلَّم ...الخ، جلد:6، صفحه:97۔

[5] … اِبن ماجه، کتاب الادب، باب فضل التسبيح، صفحه:610، حديث:3807 ماخوذاً۔

[6] … تفسير کبير، پاره:12، هود، زيرِ آيت:61، جلد:6، صفحه:367، 368۔

[7] … تفسير کبير، پاره:12، هود، زيرِ آيت:61، جلد:6، صفحه:367 بتصرف۔

سلائيډنګ (يعنې د خاورې د ښتانو يا ګټانو د راخوئيدو) نه بچ کول کوي ◈ او د ګلوبل وارمِنګ (*Global Warming*) د دنيا پۀ زياتيدونکي درجه حرارت) کښې د کمي ذريعه جوړيږي- (1)

**د وَنو نالولو احتياطونه:** **خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** مونږ ته بوټي نالول هم دي، دا وَنې جوړول هم دي، ځکه ◈ د بوټي نالولو نه پس دې له باقاعده اوبۀ ورکوئ! ◈ د دې د صفايۍ ◈ کټ کولو تراشلو خصوصي خيال ساتئ! ◈ پۀ عامو لارو کښې (چرته چې خلقو ته پۀ تللو کښې تکليف وي) ◈ چرته چې قانوناً بوټي نالول منع وي ◈ او د چا پۀ ذاتي ملکيت کښې بوټے مۀ نالوئ! ◈ که چرې د چا د پاره بهر بوټے نالول ممکن نۀ وي نو هغه دې پۀ خپل کور کښې پۀ ګملو کښې واړه واړه بوټي نال کړي- (2)

د بوټو نالولو د نورو فضائلو، فائدو او احتياطونو نه د ځان خبرولو د پاره د امیرِ اهلِسُنَّت مولانا محمد الياس عطار قادري دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه ډيره ښکلې رساله **درخت لگائیے ثواب کمائیے** د مکتبة المدينه نه حاصله کړئ يا يې د دعوتِ اِسلامي د ويب سائټ نه ډاؤن لوډ کړئ- دا رساله پخپله هم ولولئ او نورو له هم د دې ترغيب ورکړئ او پۀ سوشل ميډيا مثلاً واټس ايپ وغيره باندې يې د الله پاک د رضا او د ثواب د پاره د نورو سره هم شئير (***Share***) کړئ!

| | |
|---|---|
| آؤ لوگو! سب مل کر اِک شجر لگاتے ہیں | سر پہ ٹھنڈی چھت والا ایک گھر بناتے ہیں |
| گرمیوں کی چھاؤں ہیں، سردیوں کا ایندھن ہیں | کون کہتا ہے یہ پیڑ پھل نہیں بناتے ہیں؟ |

1... درخت لگائیے ثواب کمائیے، صفحہ:7 ملخصاً۔

2... درخت لگائیے ثواب کمائیے، صفحہ:15137 ملتقطاً۔

الله پاک دې مونږ ته د عمل کولو توفيق راعطا کړي-

اٰمِيْن بِجَاهِ خاتَمِ النَّبِيّٖن صلَّی اللہُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

# د دعوتِ اسلامی هفته واره د سُنَّتو ډکه اجتماع کښې لوستلو والا (6) دُرودِ پاک او (2) دُعاګانې

## ﴿1﴾ د شَبِ جُمعې [يعنې د جُمعې د شپې] دُرُود

اَللّٰهُمَّ صَلِّ وَسَلِّمْ وَبَارِکْ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدِ نِالنَّبِيِّ الْاُمِّيِّ الْحَبِيْبِ الْعَالِى الْقَدْرِ الْعَظِيْمِ الْجَاهِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَصَحْبِهٖ وَسَلِّمْ

بُزرګانو فرمائيلي دي چې څوک هره شَبِ جُمعه (يعنې د جُمعې او زيارت پۀ مينځنۍ شپه باندې) دا دُرُود شريف پۀ پابندۍ سره کم ازکم يو ځل لوَلي [هغه به] د مرګ پۀ وخت کښې د مَدَني آقا صلَّی اللہُ علیہِ واٰلہٖ وسلَّم دِيدار کوي او قَبر کښې د داخليدو وخت کښې هُم، تر دې چې مَدَني آقا صلَّی اللہُ علیہِ واٰلہٖ وسلَّم به هغه قَبر ته د خپل رَحمت نه ډکو لاسو باندې کوزوي. (1) راځئ چې مونږ هم پۀ شريکه دا دُرُود ووائيو.

## ﴿2﴾ ټول ګناهونه مُعاف

[1]... اَفْضَلُ الصَّلاة، صفحه: 151، خلاصةً۔

اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰی سَیِّدِنَا وَ مَوْلَانَا مُحَمَّدٍ وَّ عَلٰی اٰلِهٖ وَسَلِّمْ

د حضرتِ سَیِّدُنا انَس رضی اللہ عنہ نه روايت دے چې مَدَني تاجدار صلّی اللہ علیہ والہٖ وسلّم فرمائيلي دي: څوک چې دا دُرُودِ پاک لوَلي که ولاړ وي نو د کښيناستلو نه مخکښې او که ناست وي نو د ودريدلو نه مخکښې به د هغهٔ گُناهونه مُعاف کړے شي. [1] راځئ چې مونږ هم پهٔ شريکه دا دُرُود ووائيو.

## ﴿3﴾ د رَحمت اويا دروازې:

صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

څوک چې دا دُرُودِ پاک لوَلي پهٔ هغهٔ به د رَحمت اويا دروازې برسيره کړے شي. [2] راځئ چې دا دُرُود هُم پهٔ شريکه ووائيو.

## ﴿4﴾ د شپږ لاکه دُرُودشريف ثواب

اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰی سَیِّدِنَا مُحَمَّدٍ عَدَدَ مَا فِیْ عِلْمِ اللّٰهِ صَلَاةً دَآئِمَةً بِدَوَامِ مُلْکِ اللّٰهِ

حضرت اَحمَد صَاوِی رحمۃ اللہ علیہ د بَعضو بُزرگانو نه نَقل کوي: د دې دُرُود شريف يو ځل لوستلو باندې د شپږو (6) لاکو دُرُود شريف لوستلو ثواب حاصِليږي. [3] راځئ چې پهٔ شريکه يې ووائيو.

## ﴿5﴾ د خوږ مُصطَفٰے صلّی اللہ علیہ والہٖ وسلّم قُرب

اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰی مُحَمَّدٍ کَمَا تُحِبُّ وَ تَرْضٰی لَهٗ

1... اَفْضَلُ الصَّلاة، صفحه:65۔

2... قَوْلُ البَدِيْع، باب ثاني، صفحه:277۔

3... اَفْضَلُ الصلاة، صفحه:149۔

يوه ورځ يو کس راغلو نو حُضُورِ اَنور صَلَّی اللہ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم هغه د خپل ځان او صِدِّيقِ اکبر رَضِیَ اللہ عَنۡہ تر مينځه کښينولو، پهٔ دې باندې صَحابَهٔ کرام رَضِیَ اللہ عَنۡہُم حيران شو چې دا څوک اوچتې مرتبې والا دے! چې کله هغه لاړو نو حضور صَلَّی اللہ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم وفرمائيل: دے چې کله پهٔ ما باندې دُرُودِ پاک لوَلي نو داسې يې لوَلي. [1] راځئ چې مونږ يې هُم پهٔ شريکه ووائيو.

## ﴿6﴾ دُرُودِ شَفاعت

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَّاَنْزِلْهُ الْمَقْعَدَ الْمُقَرَّبَ عِنْدَكَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ

د شفِيعِ اُمَّت صَلَّی اللہ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمانِ مُعَظَّم دے: څوک چې داسې دُرود شريف ولوَلي، د هغهٔ د پاره زما شفاعت واجب شي. [2] راځئ چې دا دُرُود هُم پهٔ شريکه ووائيو.

## ﴿1﴾ د يو زر [1000] ورځو نيکۍ:

جَزَى اللّٰهُ عَنَّا مُحَمَّدًا مَا هُوَ اَهْلُهٗ

د حضرتِ سَيِّدُنا ابنِ عباس رَضِیَ اللہ عَنۡہُما نه رِوايت دے چې مَدَني آقا صَلَّی اللہ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: د دې د لوستونکي د پاره فرښتے د يو زر [1000] ورځو پورې نيکۍ ليکي. [3] راځئ چې مونږ يې هُم پهٔ شريکه ووائيو.

## ﴿2﴾ داسې ده لکه شبِ قدر يې چې حاصل کړو

د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللہ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: چا چې دا دُعا

---

1...قَوْلُ البَدِيْع، باب اَوَّل، صفحه:125۔

2...الترغيب والترهيب، كِتَابُ الذِّكْر والدُّعَا، جلد:2، صفحه:329، حديث:30۔

3...مَجْمَعُ الزَّوائِد، كِتَابُ الْاَدْعِيَه، جلد:10، صفحه:254، حديث:17305۔

درې ځله ولوستله نو لکه هغۀ چې شبِ قدر حاصل کړو- [1] راځئ چې مونږ هُم دا دُعا پۀ شریکه ووائیو-

لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ الْحَلِيْمُ الْكَرِيْمُ، سُبْحٰنَ اللّٰهِ رَبِّ السَّمٰوٰتِ السَّبْعِ وَرَبِّ الْعَرْشِ الْعَظِيْم

(د حِلم او کرم کوونکي **اللّٰه** پاک نه علاوه هیڅوک د عبادت لائق نشته، **اللّٰه** پاک دے، د اووۀ اسمانونو او د عظمت والا عرش **رَبّ**)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

1...تاریخ ابنِ عساکر، 155/19، حدیث:4415